SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارگان

پنځم کال ۷۲ گڼه پرله پسې(۳۵۹) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د رجب المرجب (٦) د۱۳۷۹هـ ش کال د تلې دمیاشتې(۱۲)د۲۰۰۰میلادي کال اکتوبر (۳)

په پیښور کی د خپریدونکی سهار ورځپاڼی په حواله :

مسعود په کاپیسا کی د هیروئینو څوارلس کارخانی لری

د دغو فابریکو تولیدات مستقیماً دوشنبې ته ورل کیږي

پیښور - سهار : یوی جرمنی معتبری مجلی «اشپیگل» په وروستی گڼه کی لیکلی چی د مسعود تر مستقیمی څارنی لاندی په کاپیسا کی د هیروئینو فابریکو په فعالیت پیل کړی. مجله لیکی د روسی اقمارو له مخی د دغو فابریکو شمیر ۸ دی خو د ملگرو ملتو د څیړنو له مخی چی هغه هم په مصنوعی اقمارو بنا دی شمیر یې څوارلس ښوول شوی دی. مجله د دوشنبی د هوایی ډگر د رئیس له خولی لیکی چی له پنجشیر نه په هلیکوپترو کی سر ترلی څه راځی چی موټر یې د پلټنی حق نه لرو او نه پوهیږو څه دی او له دی ځوا خو معلومه ده چی وسلی وړی.

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.

امارتی دندو ته د کرامو علماو، طالبانو ، مجاهدینو او نورو کسانو د منلو او د دوی د رتبو د تثبیت په باب :

د افغانستان د اسلامی امارت د مقام فرمان

فرمان د هغو کسانو حقوق خوندی کوی چی د ۱۳۵۷ کال د غویی له کودتا وروسته هجرت ته اړ شوی

هغه کسان چی د غویی له کودتا وروسته د وخت د دولت پر ضد د جرمونو په تور توقیف یا حبس شوی دا فرمان یی حقوق اعاده کوی

هغو کسانو ته چی د ثور له کودتا وروسته لزوماً تقاعد ورکړ شوی تقاعد یی رفع او وظیفه ورکول کیدی شی

د کرامو علماو طالبانو مجاهدینو او نورو اشخاصو امارتی دندو ته د منلو او هغوی د رتبو د تثبیت په هکله چی تر اوسه یی رتبه یا درجه نده تثبیت شوی د افغانستان د اسلامی امارت د مقام فرمان

لومړی ماده: دغه فرمان د کرامو عالمانو ، طالبانو ، مجاهدینو ، ملکی کارکوونکو او عسکری منسوبینو متعلمینو ، محصلینو او نورو اشخاصو امارتی دندو ته د منلو او د هغوی د رتبو د تثبیت په هکله چی د۱۳۵۷ هـ ش کال د غویی د میاشتی له ۷ نیټی څخه وروسته هجرت ته اړ کړای شویدی یا د اسلامی شریعت د دفاع په منظور د وخت د دولت پر ضد د جرمونو په تور توقیف یا

محترم قاضی القضات و رئیس ستره محکمه :

توقعات و ارزو هاي مردم از امارت اسلامي باید به ناامیدي مبدل نگردد

دیروز شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان در مقر ستره محکمه دایر گردید.

ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید. سپس محترم قاضي القضات روي موضوعات و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي از سخنان شان

ص ٤

محترم مولوي عبدالحکیم منیب معین سرحدي وزارت سرحدات و قبایل :

با مشاور نظامي دفتر ملل متحد ملاقات نمودند

شریعت : محترم مولوي عبدالحکیم «منیب» معین سرحدي وزارت سرحدات و قبایل قبل از ظهر دیروز در دفتر کارش با شاغلي جنرال ریسرگ مشاور نظامي دفتر ملل متحد ملاقات نمودند.

محترم مولوي عبدالحکیم منیب معین سرحدي وزارت سرحدات در زمینه گفتند امارت اسلامي افغانستان در فضاي ص ٤

په ننگرهار کی د کوکنارو د بندولو لپاره یو کمیسیون وټاکل شو

ننگرهار - باختر :

د ننگرهار ولایت او په دغه ولایت پوری د اړوندو ولسوالیو د بیلا بیلو امارتی ادارو چارواکو او منسوبینو ته په ټول هیواد کی د کوکنارو د کرکیلی د بندولو په باب د افغانستان د اسلامی امارت د مقام د فرمان د بیانولو او څرگندولو په مقصد یو هیأت موظف شو .

د ننگرهار ولایت د مخدره موادو پر خلاف د مبارزی د اداری د کنترول او سمون د رئیس محترم مولوی امیر محمد حقانی په ٤ مخ

محترم سیدمحمدنواب حیدري یك تن از علماي برجسته اهل تشیع درافغانستان:

گذشت زمان حکم میکند که ملل متحد ا.ا.ا را به حیث یك واقعیت بپذیرد

شریعت - کابل:

اگرجریانات اخیردرکشوررا بطور دقیق ملاحظه کنیم به وضوح درمي یابیم که گذشت زمان به نفع ا.ا.ا بوده وامروزموقع ان فرا رسیده است که ملل متحد ا.ا.ا را به حیث یك واقعیت ــ ــ درجامعه بپذیرد.

این مطلب را محترم سید محمد نواب «حیدري» یك تن ازعلما ، أهل تشیع درافغانستان به روزجمعه گذشته طی محفلي که به اشتراك صدهاتن ازبرادران وخواهران اهل تشیع ص ٤

طي هفته گذشته :

ارزش پول افغاني در برابر اسعار خارجي ۱۵ فیصد افزایش یافت

شریعت - کابل

علي الرغم تحولات جدید در کشور ارزش پول افغاني در برابر اسعار خارجي ۱۵ فیصد افزایش یافته و بانکنوت هاي افغاني در استانه اتکا و اعتماد مردم قرار گرفته است.

ص ٤

این هم نشانه از جنایات قبلي ملیشه هاي دوستمي در کابل که بعد از تاراج، تعمیر و بیش از سی پایه ماشین الات چاپ مطبعه دولتي وقت را به آتش زدند. عکاس: یوسف

نمایی از تعمیر مطبعه امارتی که در آن دفاتر مرکزي روزنامه هاي شریعت، هیواد، انیس و کابل تایمز موقعیت دارند. عکاس: یوسف

د ننگرهار ولایت د خوږیانیو په ولسوالی کی :

د یوی دوه پوړیزی ودانی د نړیدو له امله ٤۲ تنه په حق ورسیدل

ننگرهار - باختر

د ننگرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالی په مربوطاتو کی د یوی دوه پوړیزی ودانی د نړیدو له امله دوه څلویښت تنه سخی او ٤ مخ

په هلمند او کندهار کی :

د کوکنارو د نه کرلو په خاطر غونډی جوړی شوی

هلمند - کندهار - باختر :

د هلمند ولایت د گرشک ولسوالی او د کندهار ولایت د شاه ولی کوټ ولسوالی خلکو د کوکنارو د کرکیلی د بندولو په ٤ مخ

در شبرغان کار ترمیم اساسي ساختمان هاي تصفیه گاز جرقدوق آغاز گردید

شبرغان - باختر :

محترم ملا نورالباقي رئیس تصدي افغان گاز گفت : فابریکه تصفیه گاز جرقدوق که یکي از بزرگترین پروژه هاي اقتصادي کشور بشمار میرود بنا بر عدم توجه مسوولین وقت فعالیت بعضي از بخشهاي آن متوقف گردیده بود که ص ٤

اعتراض مردم فلسطین علیه صهیونیستها وارد پنجمین روز خود گردید

اعتراض هاي مردم مسلمان فلسطین علیه تجاوز صهیونیست ها دیروز وارد پنجمین روز خود گردید.

در زدو خورد هاي دیروز بین اعتراض کننده گان فلسطین و رژیم صهیونیستي چندین نفر کشته و زخمي شده اند.

بگزارش منابع خبري به تعقیب درگیریهاي پریشب صبح دیروز بار دیگر نظامیان اشغالگر صهیونیست بر جوانان فلسطیني آتش گشودند که در اثر آن چندین نفر شهید و تعدادي هم جراحت برداشتند. ص ٤

ایتالیا یك شفاخانه مدرن صد بستري را در کابل ایجاد مینماید

درین شفاخانه قربانیان ماین، اطفال جنگ زده و معیوبین ملکي بصورت مجاني تداوي میگردند

مصرف پیشبرد امورات یکساله این شفاخانه یك ملیون دالر پیش بیني گردیده است

این شفاخانه ۲ ماه بعد در کابل افتتاح میگردد

از چندي بدینسو کار ترمیم ساختمان کودکستان شیر پور شهر نو کابل به عنوان ایجاد یك شفاخانه جراحي از جانب موسسه ایمرجنسي کشور ایتالیا به شدت ادامه دارد. خبرنگار ما در زمینه گزارشي دارد که توجه شما عزیز دوستان را به خوانش آن جلب میداریم.

موسسه صحي ایمرجنسي کشور ایتالیا که وجوه مالي آنرا ۵۰ فیصد حکومت مرکزي و متباقي را مردم ایتالیا تمویل میکنند از طي چند سال بدینسو در برخي از نقاط مختلف جهان چون : ایالت کردستان عراق، کشور کمبودیا ، سیرالیون افریقا و ولسوالي پنجشیر افغانستان در عرصه خدمات صحي فعالیت دارد از چندي بدینسو کار ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

واکمن اقتصادی کمیسیون د وخت یو اهم ضرورت

زموږ گران هیواد چی د روسی یرغل او بیا د لمسوونکو هیوادو له خوا تپل شوی کورنی جگړی په دوران کی په ورانو کنډوالو بدل او ټول اقتصادی بنسټونه یی له بیخه ونړیدل چی نه د کرنی او اوبه خور نظام ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بيه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱توزیع و شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

پاتی شو، نه د صنعت او سوداګری او نه د ښوونی او روزنی او روغتیایی خدمتونو. ددی لړی په نتیجه کی هیواد داسی اقتصادی تس وخوړ چی بیایی په پښو درول ډیر وخت ، خورا ګړندی هڅی او پر له پسی زیار غواړی دا چی اوس دښمنانو په مخامخ جګړو کی خپله بی وسی ولیدله نو د افغانانو د بی وزلی او نیستی ته کېنولو هڅی یی پیل کړی چی همدا موجوده اقتصادی بندیزونه یی یوه کړی بلل کیږی او حقیقت هم دا دی چی په هیواد کی اقتصادی زوال ډیر زر د سیاسی او ټولنیز زوال لامل ګرځی او هغه ولس د دومره بدمرغیو سره مخامخ کیږی چی بیایی علاج ډیر ګران وی په داسی هیوادونو کی د پردو لاس وهنو ته موقع برابریږی ، بی روزګاری، بی علمی، جهالت او د پریمانه ناروغیو او نورو سل ګونو اخلاقی ستونزو لړی را شروع کیږی او بالاخره مغرض هیوادونه هڅه کوی ډول ډول فسادونو ته لمن ووهی او په پای کی هغه ټولنه په غلامی او اسارت محکومه شی دغسی توری ترږومی چی زمونږ په هیواد هم راخپری شوی وی خو د لوی خدای په فضل د اسلامی امارت په قیام سره یی تر ډیره بریده مخه ونیول شوه او چارواکو د هیواد په ټولو ډګرونو کی له صفره کار پیل کړ خو څرنګه چی دا کار ډیر زور او زغم غواړی نو په کار ده چی ټول هیوادوال په دغه ملی کمپاین کی برخه واخلی او د فقر د راټیټولو هغه جګړه چی اوس دښمنانو راسره شروع کړی ده په خپل یووالی او وحدت سره دفع کړی له نیکه مرغه دا دی اسلامی امارت په دی برخه کی یو بل مهم ګام واخیست او د هیواد د ملی اقتصاد د سمون او ودی لپاره یی د یو واکمن او لوړ رتبه کمیسیون د جوړیدو اعلان وکړ رښتیا هم دا کمیسیون د وخت یو ډیر اهم ضرورت دی چی یو لوی ملی پیتی ته به اوږه ورکوی، د هیواد ټولو اقتصادی څانګو د پرمختګ لپاره به لاری چاری سنجوی او د هیواد د تکړه او تجربه کاروااقتصاد پوهانو په سلا مشوره به په داسی پلانونو غور کوی چی د هیواد والو د ژر په ژره سوکالی او بسیا کیدلو ذریعه وګرځی د هیواد د اساسی او لومړنیو اړتیاو پیژندنه وکړی او ستونزو ته داسی یو حل تجویز کړی چی زمونږ د موجوده شرایطو سره ځنګ لګوی په دی کی شک نشته چی د خپل منځی مشورو او مسلکی پوهانو د تجربو نه ګټه اخستلو کی به ډیر برکت وی او سل په سلو کی ممکنه ده چی د ټولو اقتصادی کشالو لپاره به موزون او مناسب حل را وویستی شی او هیواد د سوکالی په لور وخوځیږی .

یو ځل بیا هم په ټینګار سره باید ووایو چی دا کمیسیون خورازیات ارزښت لری، دروند مسولیت یی په غاړه دی او په کار ده چی په ډیر جدیت سره پر مخ ولاړ شی.

عدل او انصاف د اسلام په رڼا کی

د عدلیی وزارت خپرونه
لیکونکی : ملا محمد ناصر مجاهد

(٥)

راعیت او رعیتوالی د یوه عادی اسلامی حکومت اصل بلل کیږی نو ځکه د روح البیان په دوهم جلد ۳۵۹ صفحه کی نوشیروان عادل چی په عدل کی یی غټ شهرت درلوده وایی چی دده د پاچاهیبه تخت ددی خبری د اثبات لپاره دا کلمات لیکل شوی وو .

پاچاهی بی امارته امارت بی سړیو منځ ته نه راځی سړی په مال مونډل کیږی او مالونه په آبادی منځ ته راځی آبادی فقط په عدل او انصاف د پاچا (حکومتی مسول وروکی وی که غټ) په خپل رعیت باندی او همدارنګه حکومتی ذمه وار د خپل رعیت په هر خیر کی چی دوی یی کوی شریک دی.

دا هغه وخت امکان لری چی مسول دینداره او واقعی مسلمان وی پدی هکله اردشیر چی د خپل وخت یو هوښیار سړی تیر شویدی وایی :

دین د پاچاهی بنیاد دی مطلب دا چی پاچا هی اصلاً په دین او دینداری ولاړه وی او عدل د پاچاهی ساتونکی (پیره دار) دی ، کوم شی چی بنیاد ونلری هغه خا مخا تلونکی دی او کوم شی چی ساتونکی ونلری ضایع کیږی.

او همدا راز د روح البیان د دوهم جلد په ۱۹ مخ کی حجاج بن یوسف د هغه په زړه پوری خواب په هکله لیکلی چی یوه ورځ یو چا دده څخه پوښتنه وکړه ته ولی د حضرت عمر «رض» په شان عدل نه کوی دا ځکه چی نه د هغه د خلافت په دوران کی موجودوی، آیا د هغه عدل او اصلاح دی نه وه لیدلی ؟ دده ورته په خواب کی داسی وویل، تاسی په تقوی او پرهیزګاری کی د ابو ذر «رض» په شان شی زه به هم درسره په عدل او انصاف کی د حضرت عمر «رض» په څیر معامله وکړم.

له پورتنی خواب څخه دا معلومیږی چی که د رعیت څخه هر څوک د خپل حکومتی مسول نه د عدل او انصاف امید او هیله ولری اول خو باید خپل ځان اصلاح کړی، بیا څه چی غواړی هغه به د هیواد د نافذه قوانینو د حکمونو په رڼا کی د عدل او انصاف سره سم ده ته رسیږی نو ځکه هر چاته خو دا پکار ده چی خپل عمل د لاری مل وګرځوی څه چی کړی هغه به ربیی، پدی مورد د رسول «ص» دغه حدیث شریف څرګند ثبوت دی (ستاسی عملونه ستاسی حاکمان دی) سخترمو لوستونکو اکه په بل عبارت سره ووایو دا یو ټولنیز عدالت بللی شو چی پدی اړوند فخر موجودات سرور کاینات «ص» د حجة الوداع په وخت مسلمانانو ته دوه څیزونه د طرزالعمل په ډول وراندی کړی لومړی قرانکریم او دوهم دده «ص» سنت دی نو ځکه کلمه د اسلام د (سلم) څخه اخستل شوی پدی معنی چی هر مسلمان باید ځان د الله «ج» او امرو ته تسلیم کړی پدی صورت کی به سالستیا دده په برخه وی الله «ج» فرمایی : (هر هغه څوک چی ځان د الله پاک اراده ته تسلیم کړی، نیک کارونه وکړی، د الله «ج» په نزد به په امن کی وی هیڅ ډول خوا پدی او ویره به دوی ته متوجه نشی) او دا هغه وخت امکان لری چی یو مسلمان د خپل ځان لپاره همدا دستور العمل غوره کړی او د الله «ج» اوامر پر ځای او د نواهیو او منکراتو څخه ځان وژغوری او د الله «ج» فرمانبردار شی د شرعی قوانینو د حکمونو په رڼا کی ژوند ده نیا او آخرت د نیکمرغی ضامن وګرځوی د هر ډول خوابدی او ویری نه به په امان وی.

بل دا چی د دنیا ټول پوهان پدی باور دی چی ټولنیز عدالت دی نه وایی چی یو سړی که هر څومره د لوی منصب خاوندوی او ده ته د خلکو کارونه ورسپارل شی باید هغوی ته خدمت کول د ځان لپاره د سرلوړی او فخر وسیله وګڼی او پر دوی باندی احسان وانه چوي پدی اړوند آنحضرت «ص» د قوم خدمت کول د ځان لپاره فخر بللی تنبلی او بیکاری یی ناوړه کار ګڼلی همدا رنګه کاریی د شرافت نښه بللی او دا خبره یی واضحه کړیده چی پیغمبرانو هم کار او کسب کاوه او که دده «ص» ژوند وڅیړو نو و به وینو چی ده هم خپل کارونه پخپله کول او له بعثت نه مخکی یی رمی پوولی .

د یوه قوی اسلامی حکومت جوړیدل د شرعی قوانینو پر اساس برازی ددی لپاره غوره ګڼل شوی چی د ضعیفانو حق پکې خوندی پاتی شی او مهم شی خو لا دا دی چی شوری کړل د مسلمانانو د کارونو د لا ښه سمون پخاطر ډیره ضروری ده راځی چی پدی هکله د سرور کائینات «ص» په ژوندانه کی د شوری کسانو په اړوند څه رڼا واچوو کله چی مکه مکرمه فتحه شوه ددی ایت کریمه په نزول سره چی الله «ج» فرمایی (مشوره وکړه له دوی سره پدی اړوند) سمدستی تشکیل د شوری جوړ او پوهو کسانو د صحابه کرامو د مثال په توګه حضرت امیر المومنین ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب ، عبدالرحمن بن عوف ابو موسی اشعری، عمرو بن عاص، معاویه، حسان بن ثابت سعد بن ابی وقاص، ابو عبیده ابن جراح، خالد بن ولید، مغیره بن شعبه پکی ګډون درلود، چی هدف ددی شوری څخه ساتنه د بیت المال د مسلمانانو، د سرحدونو ساتل، حل او فصل د ذات البینی جنجالونو، ساتل د حقوقو د ضعیفانو په برابر د زورورو کی، تنظیم (برابروالی) د ټولنیزو چارو او داسی نور، دا ځکه چی اساس د اسلامی مشورتی حکومت هم په همدی ولاړ دی او کومی چاری چی د عامه خلکو د صلاح او مشوری ایجاب یی کاوه مخامخ به یی د خلکو (رعیت) سره شریکولی . همدا دستور العمل د آنحضرت «ص» خلفای راشدینو والیانو ، او نورو مسولینو هم وو چی په مسجدونو کی به یی د خلکو سره یو ځای د مشوری پخاطر ترسره کاوه . د مثال په توګه کله چی حضرت عمر بن عبدالعزیز مشهور په عمر ثانی د خلکو لخوا په خلافت باندی ومنل شو یوه ورځ یی د مشوری پخاطر د مسلمانانو اکثریت ته د تقریر په جریان کی داسی وویل : له مانه مخکی څینو مسولینو د بیت المال څخه څینی مخکی او منقول شیان د ځان په ګټه استعمالول چی دا کار باید نه وای شوی اوس چی اکثره بیرته ماته رسیدلی څه چی زما سره موجود دی بیت المال ته یی سپارم نور که څوک څه لری بیت المال ته دی وسپاری چی پدی ترتیب یی د وخت پر ذمیانو عادلانه مالیی ولګولی تر څو یی په بیوزلو او مسکینو خلکو وویشی دده همدی عادلانه مالیی اکثره نصرانیان د اسلام په مقدس دین باندی مشرف کړل حتی دا خو لا څه کوی کافران هم عدل د حفاظت او ساتنی موثره وسیله ګڼی او ددی خبری څرګند مثال یو ځل بیا د روح البیان د دوهم جلد په ۲۲۹ مخ کی د حضرت عمر «رض» عادل خلیفه د خلافت دوره رابادوی. وایی چی د روم پاچا حضرت عمر «رض» ته یو څه اندازه جامی او بوره د هدیی په ډول د خپل یوه استازی په لاس راولیږل، کله چی را لیږل شوی استازی مدینی منوری ته راغی د وخت د خلیفه حضرت عمر «رض» د کور په لټه کی شو او پوښتنه یی وکړه چی د مسلمانانو د خلیفه کور چیری دی ؟ یو چا په خواب کی ورته وویل چی خلیفه داسی ښکلی او ښایسته کور نلری کوم چی ته یی تصور کوی هغه یو کچه خاورین کور لری. کله چی استازی ورغی واقعاً یو وروکی او خاورین کور یی وموند چی د روازه یی د زوروالی له وجی توره شوی وه خلیفه په کور کی نه وو ورته وویل شول هغه د خپل ضرورت او د مسلمانانو د احتساب لپاره بنارته تللی آن تر دی چی پسی را روان شو او حضرت عمر «رض» یی ولید چی خپله دری یی د بالښت په ډول سرته ایښی. استازی ورته وویل واقعاً عدل دی کړی چیرته چی وغواړی بیدیری ددی ویره نلری چی څوک به څه ضرر درته ورسوی ولی زمونږ حاکمانو ظلمونه کړی نو ځکه دوی په کلاګانو او ساتونکو ځانونه ساتی.

هغه ضروری مسئلی چی خلک ور څخه غافل دی :

١ - ډیر پرهیزګاره خلک لیدل کیږی چی ځانونه یی صورتاً او سیرتاً مکمل پر شریعت برابر وی، خو یوه کار ته یی پام نه وی هغه دا چی تر لاندی شوندی کښته د بزګر بیي او کبته خوا مری با یی بیاتی کوی چی دی عمل ته د فقهی شریفی په کتابونو کی مکروه او بدعت ویل شوی دی.

٢ - هر هغه عمل چی کول یی حرام وی هغه شی ته کتل او یا یی استعمال حرام دی لکه سګوانی ته کتل ، سرود ته کتل، نڅانه کتل او داسی نور چی اکثره خلک ځنی غافل دی.

فرهنګی مرستی او پرنګی هدفونه

فاروق

په نړی والو مرستو کی نن سبا یو څو مرستی ډیری مشهوری او په هر مجلس او هره ناسته ولاړه کی د یادیدو وړ ګرځیدلی دی لکه سیاسی مرستی، نظامی مرستی، اقتصادی مرستی او فرهنګی مرستی، په دغو کی دری ډوله ړومبی خو داسی دی چی یو انډیوال هیواد یی د بل هیواد سره ښه په لوړینه او اخلاص کوی مګر دا څلورم ډول چی «فرهنګی مرستی» بلل کیږی زیاتره وخت له هغو لوریو سره هم کیږی چی په دی نوړو ټولو ډګرونو کی کلکه دښمنی ورسره کوی خو دا د فرهنګی مرستو لار دومره خطرناکه ده چی لوی مغرض هیوادونه په آسانی سره د بل کمزوری او په بده ورځ اخته هیواد په زړه او سینه کی ورننوتلای شی نو که څه هم اغیزی یی فوری نه وی خو د راتلونکی لپاره یی د هغه ولس تاریخ، کلتور او مذهبی انګیرنی ټولی ور مسمومی کړی وی او ښه په زړه پوری نتایج تری اخلی دا هم یو حقیقت او د ولسونو په تاریخ کی عملی شوی تجربه ده چی کوم ملت ځان ته خپل قومی تشخص ، ځانګړی ثقافت او ژوری دینی انګیرنی او عقایدو نه لری. هغه ملت هڅکله هم یو پر ځان ولاړ ښتمن او ښه ګڼلی ملی ټولنه نه شی جوړولی او له هغی ځایه هوسا او نه غلګر هیوادونه تل هڅه کوی چی د فرهنګی مرستو تر نامه لاندی د یو بل ولس ټول معنوی ارزښتونه وراسته او چونجن کړی او کله چی دا کار تر سره شو نو په آسانی کولای شی د مرتبتوب کړی ور په غاړه او د هغوی د ټولو مادی خزانو واکداری تری خپله کړی موږ افغانان که څه هم له تاریخی پلوه د یو بډای او ځانګړی ثقافت او کلتور خاوندان پاتی شوی یو، خو ځکه چی اوس مو چندان خوند نشته، اخبار، مجلی، کتابونه راډیو ، تلویزیون، کمپیوټر، انترنټ او نور وسایل مو ټول سره ګوډ ساتی او له کاره لویدلی نو ځکه یو نیمست د فرهنګی مرستو او ثقافتی ملګرتیاو په برخه کی را ته کیږی او هغه لوری چی خپلی سیاسی، نظامی او اقتصادی مرستی زمونږ د مخالفینو سره کوی، مونږ ته ښه په کلکه د فرهنګی مرستو وعده راکوی دا تګلاره نو رښتیا هم د دوی لپاره سخته ګټوره ده له یوی خوا له بهره ښه پاخه ګوزارونه او له بلی خوا په داخل کی دا ډول فعالیتونه چی کله د یو مامور سره د فرهنګی مرستو لوزونه کیږی او کله د بل سره خو له بده مرغه په دغو مرستو کی داسی کوم شی نشته چی زمونږ هیواد ودان کړی بس یو څو اخبارونه، مجلی او د دوی په خپل مذهب او ثقافت پوری اړوند څو کتابونه دی چی په یو ښار او بل ښار ګوټی کی به یی د (خانه، فرهنګ) په یوه خونه کی ایښی وی او د مدرسو ځینی استادان او

٤ مخ

د ماشومانو د اسهال له پاره ګټوره دوا

نړیوالی خبری منابع - شریعت

اسهالی ناروغی د نړی په غریبو هیوادونو لکه بنګله دیش، افغانستان، پاکستان او افریقا کی په ملیونونو خلک او په ځانګړی توګه ماشومان وژنی، له دغو ناروغیو نه د خلکو د مړه کیدو عمده لامل دا دی چی په بدن کی بی او به وچیږی او د بدن ضروری او حیاتی مواد لکه مالګی، منرالونه او شکره خارجیږی او د انسان د هلاکت سبب کیږی.

د اسهال هر ډول که دا غیر نه وی که د محرقی نه او یا کوم بل مرض نه د انسان له بدن نه هغه مواد باسی چی په بدن کی یی شتوالی ډیر ضروری دی او نه موجودیت یی سړی وژنی.

نن سبا د هر چا دا چل زده دی چی د اسهال ناروغ ته له مالګی او بوری نه شربت جوړ او ورپی کړی چی د بدن ضایع شوی مایعات یی پری پوره شي.

ډاکتران، نرسان او حتی کلیوال ټول د همدغی موثری طریقی نه کار اخلی، خو د پیرو د لیمه په بنار کی پر دی طریقی سربیره اسهالی ناروغانو ته یو ډل ګولی چی نوی بازار ته راوتلی او درسی کوداترل نومیږی ورکول کیږی ډاکتر سلازار وایی: دا نوی درمل او د اسهال درملنی نوی طریقه ده دا ګولی د مالګی او بوری له شربت سره یو ځای ناروغ ته ورکول کیږی او ناروغ ډیر ژر ورسره جوړیږی د ماشومانو دغه ډاکتر وایی چی دا دوا هم د ناروغ تکلیف نه کوی او هم یی د اسهال نه د روغیدو موده لنډوی.

په فرانسه کی څیړنو ښودلی ده چی درسی کوداترل نه یوازی د ماشومانو د اسهال ښه دوا ده بلکی د لویانو علاج هم ورباندی کیږی خو د پیرو ډاکترانو غوښتل چی د ماشومانو د اسهال د علاج له پاره درسی کوداترل ګولی وازمایی ځکه چی په خوار و هیوادونو کی زیات ماشومان د اسهالی ناروغیو له لاسه مری او پری کړیږی.

دنس ناستی د ناروغیو د درملنی له پاره ... ی کوداترل ګولیو د اغیزمنتوب پایلی د بریتانیی په طبی ژورنال کی چاپ شویدی د متحده ایالاتو د عامی روغتیا د ملی اداری د اسهالی ناروغیو متخصص وایی چی دغه نوی دوا (درسی کوداترل) د اسهال د علاج له پاره د پخوانیو د واګانو په تناسب ډیره ښه او ګټوره ده. دا دوا د اسهال شدت کموی او نه پریږدی چی د بدن ضروری او حیاتی مواد په شدت له بدن نه خارج شی پخوانیو دواګانو د مرض د اعراضو علاج کاوه نه په خپله د مرض خو دغه نوی دوا په خپله د ناستی اندازه کموی او په کولمو کی د داسی پروتینو د تولید سبب کیږی چی له اسهال سره سم له بدن څخه نه وزی.

دغه راز دا نوی دوا په کولمو کی د هغو انزایمونو د تولید مخه هم نیسی چی د دغو پروتینو د حل او تجزیی سبب کیږی دغه دوا د افریقا منځنی ختیځ، اسیا، ارام سمندر او لاتینی امریکا په ملکونو کی «هایدریست» نومیږی او په فرانسه کی یی (تی اور) بولی، په پیرو کی د ماشومانو ډاکتر سلازار منداوایی: دغه ګولی چی د اسهالی امراضو په علاج کی ډیری موثری دی په نورو ملکونو کی هم په چټکی سره رواجیږی او ډیر ژر به د دی ګولیو یو بل ډول هم د ښځی کوچنیو ماشومانو د علاج لپاره بازار ته وراندی شی.

صحت و زندگی

ویتامینهای A و B و نقش آن در وجود انسان

شریعت : برای نیرومندی بدن، رشد اعضا و قوه ذهنی هر انسان به ویتامینهای گرناگون ضرورت زیاد احساس میشود. کمبود ویتامینها در بدن انسان باعث بروز بیماری های گوناگون شده میتواند در اینجا از جمله سایر ویتامین ها ویتامین A و B را به شما مختصراً توضیح مینمائیم.

ویتامین A : در صورت کمبود ویتامین A بیماری های از قبیل کندی رشد بدنی و یا توقف نشو و نما لاغری بیش از حد و نابینایی چشم ها برجود میآید.

ویتامین B: سلسله این ویتامین ها برای حفظ وزن بدن، بر قراری تعادل عصبی و سوختن کامل مواد قندی و نشایستوی در بدن لازم و مفید میباشد. کمبود و یا عدم موجودیت آن در بدن کار دستگاه اعصاب را به کندی و سکتگی مواجه میسازد و امکان دارد که باعث بروز بیماری روماتیزم گردد. ویتامین B در وجود انسان از اهمیت زیادی برخوردار بوده منابع مهم آن سبزیجات میباشد و دارای چند نوع میباشد که ذیلاً هر کدام آن توضیح میگردد.

ویتامین B1 : این ویتامین برای تبادلات تنفسی و عصبی مفید بوده دارای ویژگی های ضد زهر و ضد عفونی میباشد. کمبود آن در بدن موجب اماس روده ها میگردد.

ویتامین B2 وجود انسان در میان سایر ویتامینها به ویتامین B2 بیشتر ضرورت دارد این ویتامین در رشد و پرورش بدن انسان بسیار موثر بوده کمبود آن سبب لاغری و برهم خوردن تبادلات تنفسی و بیماری های جلدي یا پوستی میگردد. جگر، گوشت، جو، پالك و مميلی منابع بسیار غنی این ویتامین به شمار میرود.

ویتامین B6 : این ویتامین در سوختن مواد خوراکی و گلوسیدی نقش ارزنده و اساسی داشته و برای تنظیم تنفس و دل بهم خوردگی بیسیار مفید و سودمند میباشد. کمبود ویتامین B6 در وجود انسان باعث بروز یك نوع بیماری پوستی یا جلدی میگردد. منابع مهم آن جوانه گندم. سبزیجات، جگر، برنج، و سبوس برنج میباشد.

عبدالقادر ځدران

د اصحابو دژوند پلوشی ۲۶

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

عبدالله بن مسعود

عبدالله په دغه ورځ هلک او لا زلمی شوی نه ؤ چی د مکی د غرونو په لمنو کی یی د عقبة بن معیط میږی ... چی د قریشو له مشرانو څخه و څرولی او خلکو به ورته ابن ام عبد ویل. نوم یی عبدالله او د پلار نوم یی مسعود ؤ.

دغه هلک به د پیغمبر «ص» په باب خبری اوریدلی ولی له یوی خوا د لږ عمر او له بلی خوا د مکی د خلکو له ټولنی او غونډی څخه د لری والی په سبب د دغو خبرو پروایی نه ساتله او هغه به تل خپلی میږی سهار وختی څر ته بیولی او د شپی به بیرته راستون شو.

یوه ورځ دغه مکی هلک عبدالله بن مسعود دوه سپین ږیری چی د هغو په څیرو کی د درنښت نښی بریښیدلی ولیدل چی دغه دواړه د هغه په لوری راروان او دواړه ډیر ستومانه او د ځغو شوندی او ستونی له تندی وچ ؤ کله چی دغه دواړه هغه ته نژدی راغلل نو دغو دواړو پر هغه باندی سلام وکړ او ورته یی وویل:

او هلکه! مونږ ته له دغو میږو څخه یوه میږه ولوشه څو په شیدو سره خپله تنده ماته کړو او خپل ځګرونه لامده کړو.

هلک وویل: زه دا کار نکوم ځکه میږی زما نه دی او زه پر میږو باندی امین ګرځول شوی یم.

دواړو سړیو د هغه خبره رد نکړه بلکی د هغو په مخونو کی د خوښی نښی ښکاره شوی او بیا یوه له هغو څخه ورته وویل: ما ته یوه میږه وښیه چی په نر پسه سره بلاربه شوی نه وی یعنی هغه میږه چی شیدی نه ورکوی.

هلک ورته یوه کوچنی میږه چی څنګ کی یی وه وروښودله.

سړی میږی ته ورنږدی شو او هغه یی ونیوله، او بیا یی پر غولانځی لاس وواهه او ورباندی یی د الله نوم یاد کړ.

هلک په ډیری حیرانتیا ورته وکتل او د ځان سره یی وویل: دغه کوچنی میږه چی په نر پسه سره بلاربه شوی نه ده څرنګه به شیدی ورکړی!!

مګر د میږی غولانځ سمدلاسه وپړسیده او په ډیرو شیدو ورکولو شوه.

په دغه وخت هغه بل سړی له ځمکی څخه یوه تیږه چی څه شانتی ژوره وه واخستله او هغه یی له شیدو څخه ډکه کړه او بیا دا او بل ملګری یی ور څخه وڅښلی، او ما ته یی هم راکړی او زه لا په دغی پیښی باور نکوم. کله چی مونږ په شیدو ښه ماړه شوو نو بیا دغه مبارک سړی غولانځی ته وویل:

غونډ شه. غولانځه سمدستی پر غونډیدلو شوه تر هغی چی پر خپل پرومبنی حالت شوه.

په دغه وخت کی ما دغه مبارک سړی ته وویل: ماته هغه څه چی تا وویل وښیه هغه راته ووایه. ته یو هلک یی چی ښه روزل شوی یی.

دا د اسلام سره د عبدالله بن مسعود د کیسی شروع ده ځکه دغه مبارک سړی رسول الله «ص» او ملګری یی صدیق «رض» و دغه دواړه د قریشو د ربړولو د لاسه د مکی شا او خوا لاړو ته وتلی وو او ځنګه چی د دغه هلک مینه د رسول الله «ص» او د هغه د ملګری سره پیدا شوه هغه دا راز د دغو دواړو مینه د دغه هلک سره پیداشوه او د هغه امانت او هوښیاری یی قدرمنه وګڼله او په هغه کی یی د ښه توب نښی ولیدلی، او په راتلونکی وخت کی د هغه د خیر په انتظار کی شول.

ډیر وخت لا نه و تیر شوی چی عبدالله بن مسعود اسلام ومانه، او د رسول الله «ص» د خدمت لپاره یی خپل ځان وړاندی او الهی پیغمبر د هغه خدمتګاری ومنله.

بختور عبدالله بن مسعود له هغی ورځی څخه درمی له پوولو څخه د سید الخلق والامم یعنی د ټولو مخلوقاتو او ملتونو د پادار په خدمت کی شو.

بیا عبدالله بن مسعود څنګه چی سیوری د خپل خاوند سره یو ځای وی، د رسول الله «ص» سره یی ملازمت او ملګرتیا غوره کړه، او په کور او بهر کی یی د هغه سره ناسته او ولاړه شوه تر دی چی که به ویده و نو هغه به یی له خوبه وینش کړ، او که ځان به یی وینځه نو هغه ته به یی پرده نیوله، او که به یی د وتلو اراده کوله نو هغه ته به یی پښی ورپښو کولی، او که به له کور څخه راتلی نو له پښو څخه به یی پښی وراېستلي، او د ځان سره به یی د هغه امسا او مسواک اخستل، او چی به کوټی ته ورننوته نو د هغه تر مخه به کوټی ته ورننوت بلکی الهی پیغمبر ورته په هر وخت کی د ننوتلو اوپه رازونو باندی د پوهیدلو چی په هغو کی به څه ګناه او تکلیف نه و اجازه کړی وه تر دی چی په صاحب سر رسول الله «ص» یعنی د رسول الله «ص» د راز په خاوند ونومول شو.

پاتی لری

د هضمی جهاز لپاره دوربین لرونکی کپسول

شریعت: د هضمی جهاز د ناروغیو د مخنیوی او درملنی لپاره اوس له یو لړ نویو دوربین لرونکو کپسولونو نه استفاده کیږی.

برتانوی طبی څیړونکو د خپلو څیړنو په ترڅ کی په دی وروستیو وختو کی داسی یو ډول دوربین لرونکی کپسولونه جوړ کړی چی له هغو نه په استفادی سره د هضمی جهاز دوران لیدل کیدی شی دی کار د بیلا بیلو ناروغیو په تشخیص او درملنه کی زیاتی اسانتیاوی را منځته کړی دی.

طبی کارپوهانو نوموړی سیستم د ناروغیو په درملنه کی ګټور بللی دغه کپسولونه له یوی اندازی اوبو سره خوړل کیږی او متخصصان کولی شی له هغه نه په استفادی سره چی د استرانه یی لولوپه بڼه په ډیر ظریف ډول جوړ شوی اړوندی: روغی په آسانی سره تشخیص او د هضمی جهاز حرکتونه د خولی او مری له لاری ووینی.

د ناروغی د تشخیص او پیژندلو تصمیم د نوموړی کپسول تر خوړلو څه موده وروسته نیول کیږی د طبی کارپوهانو په اند دغه لاری چاری د هضمی جهاز د ناروغیو د تشخیص لپاره لوی اوښتون دی چی همدا اوس د برتانوی ډاکترانو تر لاس لاندی دی.

مصرف گوشت و ارتباط آن باسرطان روده

از منابع خبری بین المللی - شریعت :

محققان فرانسوی اعلام کردند مصرف بیش از حد گوشت خطر ابتلا به سرطان روده را افزایش میدهد تحقیقات این محققان نشان داده است که در کشور های که رژیم غذایی خاص آن ها از انواع گوشت تشکیل شده تعداد مصابین سرطان روده سه برابر دیگر کشور هاست برای مثال در کشور های مانند امریکا و کانادا از هر یکصد هزار نفر چهل نفر مصاب به سرطان روده اند اما در کشور های مانند چین و هند از هر یکصد هزار نفر تنها پنج نفر به این بیماری مبتلا می شوند.

غذای عمده مردم ایالات متحده امریکا و کانادا انواع گوشت است در حالیکه درچین و هند مردم اکثراً از حبوبات سبزیجات و خاصتاً روغن زیتون استفاده می کنند به گفته محققان رژیم غذایی پر گوشت موجب افزایش تکالیف حلقوی می شود و پیدا شدن غده های سرطان هم ناشی از همین تکالیف است مصرف روغن زیتون می تواند این مرض خطرناك را تا اندازه قابل ترجهی کاهش دهد و در نتیجه مصرف روغن زیتون در غذا های گوشتی مفید پنداشته می شود.

راه جدیدی برای شناخت همدیگر

تازه ترین تحقیقات دانشمندان امریکایی نشان میدهد که انسانها بر علاوه این که از طریق تکلم، اشارات، ایما ها و ژست های شان با هم ارتباط برقرار می نمایند از یك طریق دیگری که تا کنون نا شناخته باقی مانده بود نیز همدیگر را درك نموده و با هم توافق می نمایند. بدین معنی که اشخاص در مواجهه با هم یك نوع پروتین بی رنگی در فضا پخش می نمایند که بنام Thiobeta یاد می شود در صورت که این نوع پروتین در دو شخص از نظر ترکیب Genetic باهم متجانس و یکسان باشد آنهـا با هم توافق نظر بیشتر داشته، همدیگر را خوبتر تحمل می نمایند. اما اگر پروتینهای دو شخص نامتجانس باشند اینها زود از هم دیگر خسته شده و با هم دعوی و پرخاش می نمایند. از اینجا می توان درك نمود که چرا در زندگی روزمره از بعضی ها زیاد خوش و با بعضی دیگر سرسازگاری نداریم.

قرار این تحقیقات حدود هشت نوع ساختمان Genetic در وجود انسانها وجود دارد که این نوع پروتین را تولید میکند که زیادتر شان در حجرات نموبی یا Growing cells قرار دارند قبلاً فکر می شد که این پروتین تنها در وجود یکتعداد حیوانات مانند مورچه گان و بعضی خزندگان وجود داشته و از این طریق با هم رابطه بر قرار می نمایند و با همدیگر را رد می نمایند اما اکنون ثابت گردیده است که انسانها نیز می توانند از این راه به نیات و خواستهای همدیگر پی ببرند شاید بتوان روزی از این طریق برای انتخاب یك زوج همفکر، هم رأی و خوشبخت استفاده کرد.

وحیداحمد "دارون"

فرهنگي مرستي او پرنګي ...

زده کوونکی به ورته رابولی.

همدارنګه که د چارواکو اجازه وه نو یو نیم فلم به هم په ویډیو کی ننداری ته ایښودل کیږی چی بیا هم خپلی توری پکی ستاینی برسیره پر دی که موقع برابره وه نو په هغه تولنه کی به د ځینو خاصو افرادو سره هم د خپل ذوق او تمایل سره سم اړیکی جوړوی او د یوی ځانګړی مفکوری خپرونه به کوی بس همدغه په تولنه مانا فرهنګی مرستی دی چی د یوه دوست او ګاونډی هیواد له خوایی ستونه کیږی خو ګوری دا مو په خیال کی رانه شی چی ښایی د فرهنګی مرستو نه به مقصد د جاپخانو ماشین الات، سپین کاغذ، د راډیو وسایل، د مدرسو په وداني کی مرستی او داسی نور بی ضرره او بی آزاره شیان وی چی زمونږ بوه کړمه پری سمه او نیمګړتیامو پوره کړی نو څرنګه چی د فرهنګی مرستو موضوع دومره پیچلی او ناندریزه ده، د اسلامی امارت چارواکو او خاصو عامو افغانانو ته په کار ده چی په دی هکله تل د یر ځیرک او هوښیار و اوسی او د بنو تجربه کارو پوهانو د یوی تولنی له خوا ددغه شان مرستو لپاره مناسبه تګلاره جوړه شی چی د هغی سره سم د خلکو د فرهنګی مرستو په مقابل کی مناسب چلند وشی.

محترم قاضي القضات ...

چنین گفتند : ملت مسلمان افغانستان به فتوي و رهنمایی علما بخاطر حاکمیت نظام اسلامي و تامین عدالت واقعي قرباني هاي زیاي را متحمل شدند. چنان قرباني هاي را که جهان امروزي از پیش کردن مثال آن عاجز است البته ملت مسلمان از علما طالبان و مسوولین امارت اسلامي امید هاي فراواني دارند از یك طرف به آرزو حصول نتایج و ثمرات قرباني هاي خویش میباشد و از طرف دیگر نظام فعلي حاکم در افغانستان نظام است که مي باید از آن امید ها و توقعات داشته باشند. پس باید آرزو هاي مردم به نا امیدي مبدل نگردد. و ما به ملت اطمینان میدهیم که در نظام فعلي شرعي به خصوص در محاکم بخاطر تثبیت حقوق مردم و جلوگیري از جنایات و مظالم به درجه اخیر سعي و کوشش بعمل می آید و جهت غور و دقت بیشتر و به منظور احتیاط و جلوگیري از تلف شدن حقوق مردم موضوعات به مراحل جداگانه در محاکم سه گانه بررسي میگردد باز هم اگر کسي در هر جا و در هر مرحله کداه مشکل را میبیند و یا کدام شکایت مبني بر حقیقت داشته باشد. به هر ذریعه که ممکن باشد به ستره محکمه اطلاع دهد.

محترم قاضي القضات افزودند : بخاطر اینکه مردم به زنده گي و کار هاي روزمره شان فارغ باشند نباید مردم به سبب تاخیر و معطلي بدون موجب موضوعات شان در محاکم لالهان و سرگردان باشند. و قضات باید طبق فرمان ١٠٩ عالیقدر امیر المومنین هیچ موضوع حقوقي و یا جزایي را در محاکم ابتدائیه از دو ماه و در محاکم مرافعه از یك ماه و در تمیز ستره محکمه از بیست روز زیاده معطل ننمایند. باید موضوعات مردم در مدت متذکره و یا زودتر از آن حل و فصل گردد.

محترم مولوي عبدالحکیم...

حسن همجواري با ممالك همسایه زیست داشته و در مورد کدام مشکلي ندارد و هرگاه یکي از ممالك همسایه در زمینه کدام مشکلي با ا.ا.ا داشته باشد بمنظور رفع مشکل آنها امارت اسلامي حاضر است در میز مذاکره نشسته و آنرا ازطریق مذاکره حل و فصل خواهند نمود.

ا.ا.ا در مورد حفاظت و نگهداري تمام سرحدات کشور به شمول سرحدات دولت هاي تاجکستان، ازبکستان ترکمنستان به طور نورمال و عادي وظایف خویش را اجرا نموده و مي نماید. ا.ا.ا در مقابل خواسته ها و خواهشات ملل متحد به دیده قدر نگریسته و به آن جواب مثبت ارائه نموده است

هرگاه آن موضوعات به حقوق زنان و یا مواد مخدر و یا سایر مسایل مربوطه بوده باشد امارت اسلامي افغانستان مطابق اصول بین المللي رفتار نموده و مینماید.

ایتالیا یك شفاخانه مدرن ...

ترمیم ساختمان یك شفاخانه صد بستري را در مرکز شهر کابل تحت نام « مرکز جراحي ایمرجنسي براي قربانیان جنگ » آغاز نموده است.

شاغلي دوکتور جینو مسوول مرکز جراحي ایمرجنسي در پاسخ به این پرسش که شما این مرکز را براي کدام قربانیان جنگ اعمار میتمایند در حالیکه ٩٥ فیصد خاك کشور تحت چتر امنیت و آرامش کلي بسر میبرد و جنگ تقریباً ختم مي باشد ؟ چنین اظهار داشت : اگر امروز یا فردا جنگ از افغانستان ختم شود درینجا بسیار کساني هستند که به علاج و تداوي جراحي ضرورت دارند.

ما درین شفاخانه قربانیان ماین، افراد ملکي که زخم برداند، مردمان معیوب، اطفال فلج و اطفالیکه مشکلات ارتوپیدي و ناتواني عضلاتي داشته باشند بصورت مجاني تداوي و معالجه میکنیم.

شاغلي جینو علاوه نمود : موسسه ایمرجنسي با هیچ یك از طرف هاي درگیر افغان ارتباط نداشته و بدون در نظر داشت مسایل سیاسي، نظامي و تبعیضات نژادي در افغانستان خدمت میکند البته این خدمت ما در فاصله کوتاه مدت یعني براي ٤ سال در نظر گرفته شده است : مگر ما آرزو داریم تا بیشتر از این براي مردم جنگ زده افغانستان خدمت کنیم.

موصوف اضافه داشت : از آنجائیکه موجودیت یك مرکز جراحي مجهز و پیشرفته در سطح شهر کابل از ایجابات خاص این شرایط در افغانستان تلقي میگردید به همین منظور ما شفاخانه جراحي صد بستر کنوني را مناسب حال کابل دانستیم.

البته مصرف مجموعي ترمیم تعمیرات این مرکز حدود سه صد هزار دالر امریکایي را در برمیگیرد و ممکن است یکصد هزار دالر را صرف خریداري سامان الات طبي کنیم، هکذا مصرف پیشبرد امورات این شفاخانه در یك سال حدود یك ملیون دالر پیش بیني گردیده است.

شاغلي جینو وعده داد که فعالیت این مرکز در اول دسمبر سال ٢٠٠٠ میلادي مطابق پنجم رمضان المبارك ١٤٢١ قمري یعني دوماه بعد با موجودیت ده نفر از دوکتوران خارجي آغاز خواهد شد.

مهربان

اعتراض مردم فلسطین ...

طبق یك خبر دیگر اتحادیه اروپایي طي بیانیه اریل شارون وزیر دفاع سابق و سردسته گروه لیکود صهیونیست ها را مسوول نارامي هاي اخیر در مناطق فلسطین تحت اشغال رژیم صهیونیستي معرفي نموده و گفته است دیدار اریل شارون از مسجد الاقصا از نظر فلسطیني ها یك اقدام تحریك آمیز بوده است.

این نا ارامي ها که از روز پنجشنبه آغاز گردیده تا کنون به قتل اضافه از سي نفر و جراحت حدود هفتصد نفر دیگر انجامیده است.

محترم سید محمد نواب...

درتکیه خانه عمومي چنداول تدویریافته بوداظهارداشتند.

محترم حیدري درین سخنراني حلول ماه پرفضیلت رجب را به کافه ملت مسلمان تبریك و تهنیت عرض داشته ومسلمانان را از اکرام وفیوض این ماه مقدس اگاه ساختند.

وي ضمن بیان فضایل این ماه مبارك گفتند:واي برحال آنعده ازتجاروسرمایداران ملي کشورکه دراین ماه مبارك برحاجت نیازمندان ومستمندان نمیرسند وبرخیروصدقات شان افزوني نمي بخشند . ازآنجائیکه این ماه ،ماه طاعت وعبادت است ، پس برمامسلمانان است تادرین خجسته ماه براعمال نیك وحسنه خویش هرچه بیشتر افزوده ،نیات ، کرداروگفتارخویش رادراجتماع چنان باید عبارسازیم که شالوده این مبارك ماه بران پیرایه وزیوریافته است .

دراخیر محترم حیدري ازدرگاه خالق بی نیازبراي کافه ملت اسلام توفیق طاعت وعبادت استدعا نموده والتجاء نمود که خداوند مارادرهمه حال ازثمرات نیك ا.ا.ا بی نصیب نه گرداند.محفل به دعائیه خیروصلاح مملکت خاتمه یافت .

د یوي دوه یوړیز ...

ماشومان په حق ورسیدل.

انا لله و انا الیه راجعون

د شنبي په شپه یو شمیر سپځی او ماشومان چی د ننګرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالی د مرکز د لوبدیځ په څلور کیلو متری کی د متکی په کلی کی د واده په مراسمو کی د ګډون په مقصد راتول شوی و او د واده د مراسمو د برخه والو د شمیر د زیاتوالی له امله یو زیات شمیر یې د دغی ودانی بام ته ختلی وه په ناڅاپی ډول د دغی ودانی دوه او لمری پور چی د واده مراسم پکی پیل شوی و په برخه والو باندی ونړید. او په نتیجه کی یی دوه څلویښت تنه ماشومان او ښځی په حق ورسیدل.

خبریال زیاتوی یوازی په یوه شیبه کی د واده د برخه والو د خوشحالی مراسم په ماتم بدل شول د یو پور چت په بل پور باندی وغورځید او د واده مراسم په ماتم بدل شول.

کار ترمیم اساسي ...

خوشبختانه بعد از استقرار حاکمیت امارت اسلامي افغانستان در شمال کشور و توجه جدي ریاست افغان گاز توسط انجنیران و کارگران خویش یکتعداد چاه هاي گاز دار جرقدوق را که نسبت استخراج غیر فني به شکل آبي بر آمده بود بصورت اساسي ترمیم گردیده که این امر در تقویه بنیه اقتصادي امارت اسلامي نقش قابل ملاحظه را ایفا نموده است.

وي افزود تصدي افغان گاز اخیراً با استفاده از وسایل و پرزه جات داغمه یك پایه موتورعمقي که کاملاً از بین رفته بود مجدداً فعال نموده که با استفاده از آن در ٢٤ ساعت بیش از هشتاد هزار لیتر آب را براي نیازمندان تهیه مینماید که ازین مدرك بیش از یك هزار و هشتصد لك افغاني عاید امارت اسلامي گردیده است .

همچنان به اثر سعي و تلاش مسوولین این فابریکه یك دستگاه یکصد لینه تیلفون مجدداً فعال و ارتباط تلفوني در آن قایم گردید .

در اخیر گفت ریاست تصدي افغان گاز در نظر دارد تا در آینده کار ترمیم اساسي ١٦ حلقه چاه گاز دار را در فابریکه جرقدوق آغاز نماید.

ارزش پول افغاني در ...

این مطلب را محترم حاجي امین جان رئیس سراي شهزاده در کابل به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : سقوط مرکز عمده مخالفین در تخار، راه یابي و مطرح شدن طالبان درین اواخر در مجامع بین المللي ، فراهم شدن زمینه هاي شناخت رسمي طالبان از جانب مجامع بین المللي گسترش حاکمیت طالبان در کشور، بي ارزش شدن روپیه پاکستاني در مقابل اسعار خارجي و صدور فرمان عالیقدر امیر المومنین مبني بر عدم کشت تریاك در کشور از جمله دلایلي بشمار میرود که درین اواخر ارزش پول افغاني را در مقابل اسعار خارجي بالا برد.

موصوف افزود : فعلاً در برابر پول افغاني تقاضاي مردم افزایش قابل ملاحظه یافته است. نامبرده علاوه داشت : قبلاً یك روپیه پاکستاني به ١١٥ افغاني تبادله میشد اما عصر امروز دوشنبه یك روپیه پاکستاني به ٩٩٥ افغاني در کابل تبادله میگردید.

په ننګرهار کي د ...

مشری موظف هیأت په دی وروستیو وختو کی د ننګرهار ولایت د مرکز او بیلابیلو ولسوالیو د امارتی ادارو د منسوبینو او چارواکو په غونډو کی ګډون وکړ او د عالیقدر امیر المومنین د فرمان د بشپړ تطبیق او د کوکنارو د کرکیلی د مخنیوی په باب یی خبری وکړی او د هغوی پاملرنه یی واړوله.

په هلمند او کندهار ...

باب د عالیقدر امیر المومنین د فرمان د بشپړ تطبیق په خاطر خپل تیاری څرګند کړ.

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالی د خلکو په غونډه کی د عالمانو شورا رئیس محترم مولوی عبدالستار او ددغی شورا یو شمیر غړو او د لوړهار ولایت د شاه ولی کوت ولسوالی د خلکو په غونډه کی ددغی ولسوالی د عالمانو د شورا رئیس د کوکنارو د کرکیلی د بندولو په باب د عالیقدر امیر المومنین د فرمان د اخلاقی او ټولنیز اهمیت او ارزښت په باب عالمانه خبری وکړی او د مخدره موادو ناوړه عواقب او منفی پایلی بی حاضرینو ته بیان کړی او د مخدره موادو استعمالول بی ناوړه اقتصادی اخلاقی او ټولنیز عواقب لرونکی وبلل او څرګنده بی کړه چی مسلمان خلک باید د مخدره موادو په کرکیله او استعمالولو لاس پوری نه کړ ی ددغی ولسوالی د خلکو د غونډی په پای کی برخه والو د کوکنارو د کرکیلی د بندولو په باب د عالیقدر امیر المومنین د فرمان په تطبیقولو کی خپل بشپړ تیاری څرګند کړ.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د افغانستان د اسلامي امارت د مقام فرمان ...

حبس شویدی وضع شویدی.

دویمه ماده : ددغه فرمان په لومړی ماده کی درج شوی اشخاص چی د هیواد دننه په ملکی یا عسکری ادارو کی د خدمت سابقه ولری امارتی دندوته د شمول په وخت کی د جهادی او د طالبانو په تحریک کی د دندو د بوختیا (اشتغال) موده بی د تحریک او جهادی مشرانو لخوا د مصدقه سندونو په کتنی سره د هغوی د ترفیع او تقاعد په قدم کی د محاسبی ور ده .

ددغه فرمان په لومړی ماده کی درج شوی اشخاص چی د اسلامی شریعت د دفاع په خاطر د وخت د دولت پر ضد د جرمونو په تور توقیف یا حبس شویدی د توقیف یا حبس ټاکلی موده د هغوی د ترفیع یا تقاعد په قدم کی د محاسبی ور ده .

٣- ددغه فرمان په لومړی ماده کی درج شوی اشخاص چی تر استعفی لاندی راغلی وی په اړوندو قوانینو کی د استعفی د اټکل شویو عواقبو له په پام کی نیولو پرته په دنده کی مقرریږی په دی شرط چی د تقاعد نهایی سن ته نه وی رسیدلی.

٤- که چیری ددغه فرمان په لومړي ماده کی درج شوی کارکوونکی د قانون د حکمونو مطابق متقاعد او هجرت ته اړ کړی شوی وی په هغه صورت کی چی د هجرت په وخت کی بی د تقاعد له حقوقو څخه ګټه نه وی اخیستی د هغوی د تقاعد حقوق ورکول کیږی.

٥- که چیری ددی فرمان په لومړی ماده کی درج شوی کارکوونکی د تقاعد نهایی سن ته رسیدلی نه وی او د وخت د حکومت لخوا لزوماً تقاعد شوی وی د هغوی تقاعد رفع او وظیفه ورته ورکول کیدای شی.

دریمه ماده هغه اشخاص چی په ملکی یا عسکری ادارو کی د خدمت سابقه ونلری او مستقیماً بی په جهادی او د کرامو طالبانو د تحریک په دندو کی فعالیت کړی وی په دنده کی د ګډون په وخت کی د جهادی او د طالبانو په تحریک کی د دندو د بوختیدو یا اشتغال موده ددغه فرمان د دویمی مادی په لومړي فقره کی د درج شویو مصدقه سندونو په کتنی سره د هغوی د رتبو په تثبیت کی په پام کی نیول کیږی .

څلورمه ماده : که چیری په دغه فرمان کی درج شوی کرام علما او طالبان د تحصیل د درجی له تثبیت مخکی په ملکی یا نظامی برخو کی په خدمت کی شامل شوی وی د هغوی د تحصیل درجه تثبیتیږي او وروسته د هغوی د کارکرده ګی موده د اړوندی اداری د کارمندانو او اجیرانو د ریاست په تصدیق سره د هغوی په قدم کی د محاسبی ور ده .

پنځمه ماده : که چیری کرام علما یا طالبان مجاهدین او د تحریک نور غړی د جدید التقرر مامور په توګه توظیف شی لمړی د هغوی د تحصیل درجه د هغوی د تحصیلی سندونو په کتنی سره تثبیتیږي او وروسته د افغانستان اسلامی امارت د مامورینو د قانون د حکمونو مطابق مقرر او رتبه بی تثبیتیږي.

شپږمه ماده : کرام علما یا طالبان، مجاهدین یا د تحریک نور غړی چی له هیواد نه بهر له تعلیمی یا تحصیلی موسسو څخه فارغ او په ماموریت کی شامل شوی نه وی په امارتی وظایفو کی د منل کیدو په وخت کی د اړوندو سندونو په کتنی سره موظف هیأت (کمیسیون) له خوایی د تحصیل درجه تثبیتیږي او په امارتی وظیفو مقرریږی.

اوومه ماده : ١- هغه طالب العلم چی د وخت د نه مساعدو شرایطو له امله د تعلیم او تحصیل له دوام څخه پاتی شوی وی هیواد ته په راستنیدو سره د اړوندو سندونو په کتنی سره په پخوانیو صنفونو کی شاملیدی شی.

٢ : ددی مادی په ١ فقره کی درج شوی طالب العلم چی له هیواد نه په بهر تعلیمی یا تحصیلی موسسو کی شامل شوی وی هیواد ته په بیرته راتلو سره د تحصیلی سندونو په کتنی سره د اړوندو مقرراتو له په پام کی نیولو سره د هیواد دننه د تعلیمی او تحصیلی مدرسو په معادلو صنفونو کی شاملیدی شی.

ددی مادی د لومړي او دوهمی فقرو په حالاتو کی عسکری خدمت په هیڅ وجه د تعلیم او تحصیل خنډ نشی ګرځیدی .

اتمه ماده : هغه اشخاص چی د وخت د جهادی شوری د لومړي ګڼی فرمان د حکومونو پر اساس مخکی په امارتی وظیفو مقرر او رتبه یا درجه بی تثبیت شوی وی دغه فرمان د دوی مکتبه حقوق نه اخلالوی.

نهمه ماده : دغه فرمان د توشیح له نیتی نافذ او په رسمی جریده کی دی خپور شی ددی فرمان په نافذیدو سره د راستنیدونکو مهاجرینو دندی ته په منلو او د حقوقو د تثبیت په هکله د اسلامی دولت د جهادی شوری لومړي ګڼه فرمان لغوه ګڼل کیږی.

والسلام

د اسلام خادم

امیر المومنین

ملا محمد عمر مجاهد

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press